PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۵۴

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۵٤ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۲۱ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د مرغومې ۱۵ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق محرم الحرام ۳۰ مه د ۲۰۱۱ د جنوری ۵ مه

افغانستان بانک د ایکو سازمان غړی شو

د افغانستان بانک چارواکي وايي هيله مند دي، چې د ايکو سازمان په بانک کې د غړيتوب له تر لاسه کولو وروسته دوی کولای شي، چې د دغه سيمه ييز بانک له مالي او اعتباري امکاناتو ګټه پورته کړي. د افغانستان بانک رييس عبدالقدير فطرت د سې شنبې پر ورځ خبريالانو ته وويل، چې د ايکو د مرکزي بانک غړيتوب د سوداګرۍ په پراختيا، پانګونې، ټرانسپورټ، کانونو، کرنې او نورو برخو کې ګټور تمامېدای شي. بناغلي فطرت زياته کړه، چې د ايکو بانک به د افغانستان په بېلابېلو برخو کې مالي او اعتباري اسانتياوې رامنځته کړي: (ګټه يې داده، چې په راتلونکې کې افغان دولت د ايکو د پراختيا بانک څخه په بېلابېلو ترقياتي پروژو کې پور اخيستلای شي. اوس د ايکو د پراختيا لپاره داسې يوه لاره نه شته چې د افغانستان له خاوړې څخه تېر شي د سوداګرۍ داسې يوه پروژه نشته چې افغانستان په کې کوم رول ونه لري.)

محاصرهٔ اقتصادی افغانستان، سر آغاز بحران دیگر



با وجود تلاش ها گسترده و سفرهای پیهم مقام های افغان به تهران، هنوز هم ایران به تانکرهای تیل تجار افغان که در خاک ایران توقف داده شده، اجازهٔ حرکت نداده است. در همین حال، با وجود سفر گیلانی نخست وزیر پاکستان به کابل و تعهد وی مبنی بر اینکه کانتینرهای اموال تجار افغانی را از بندر کراچی رها خواهد ساخت، اما وعدهٔ مقام های پاکستانی نیز تا کنون عملی نشده است.

ما در این مورد بحث نمی کنیم که چرا کشورهای همسایهٔ ما چنین بیدادگری ها و ستم ها را در مقابل همسایهٔ هم مرز خود روا می دارند، در حالی که هر دو خود را کشور مسلمان و دارای دولت های اسلامی می دانند، ولی در عمل کاری را انجام می دهند که نه با مقررات و اصول اسلامی تطابق دارد و نه هم با معیارهای بین المللی سر می خورد. باید گفت با توقف کانتینرهای تجار افغان در بندر کراچی، تاجران افغان تا کنون به میلیون ها دالر خساره دیده اند و نیز با توقف تانکرهای تیل در خاک ایران، افزون براینکه، نرخ تیل ۴۰ درصد در افغانستان بلند رفته، نهادهای گمرگی و تجار افغان نیز خسارات قابل توجهی را متقبل شده اند. با این حال، آنچه در این راستا مسوولیت دولت افغانستان است، هرچند دولت با راه اندازی تلاش هایی که ظاهرا سمبولیک و نمایشی به نظر می رسد، دروازه های تهران و اسلام آباد را چندین مرتبه کوبیده است، اما این تلاش ها هیچ تاثیری نداشته است.

درهمین حال، شماری، از آگاهان بلند رفتن بهای مواد نفتی را در بازارهای کشور برخاسته از کار مافیای اقتصادی می دانند.

باشنده گان کابل گران بودن بهای تیل را برخاسته از ناتوانی ص۳

اساسي قانون اووه کلن شو، خو تر اوسه .....!

نسیم بریال

د افغانستان اساسي قانون دوولس ځپرکي او يوسلودوه شپېتمه مادې لري. دا قانون اووه کاله وړاندې د ۱۳۸۲ لمريز کال د مرغومې د مياشتې پر ځوار لسمه نېټه، د ولسمشر کرزي د لنډمهالې دورې پر مهال د لويې جرګې په خېمه کې د ولس د ګڼ شمېر استازو له خوا تصويب شو او بيا وروسته د ولسمشر کرزي له خوا توشيح او نافذ هم وګرځول شو. په لومړي سر کې تر ډېره دولت پر دې ټکي ټينګار کاوه، چې اساسي قانون به ټول هېواد کې لکه ځنګه چې دی، هغسې عملي کوي او په ټول افغانستان کې به چارې او پرېکړې د اساسي قانون پر بنسټ ترسره کېږي او همداشان له همامغو لومړيو هغو وسلوالو ته په دولت کې دوندې او دندې د حق وړانديز هم وشو، چې دا اساسي قانون ومني او له جګړې لاس واخلي. خو له بده مرغه بايد ووايو، چې اوس دا دی د اساسي قانون پوره اووه کاله تېر شول، خو تر اوسه پورې نه يوازې په پوره توګه په خپله د دولت له خوا عملي نه شو، بلکې د هر ځله د همدغه قانون خلاف کرنې هم ترسره شوې او پرواېې ونه ساتل شوه. په دې توګه کله چې پخپله دولت د اساسي قانون پرواونه ساتي او عملي يې نه کړي، نو مخالف لوري به ځنګه ورته غاړه کېږدي. همداشان په دغه اساسي قانون کې ځينې داسې ګونګې او مبهمې مسئلې هم شته، چې تفسير او توضيح ته اړتيا لري او تر اوسه پورې وضاحت نه دی ورکړل شوی. نو که له يوې خوا په دې اساسي قانون کې ځينې نواقص او نيمګړتياوې ليدل کېږي، خو له بلې خوا بيا ځينې بهرنيان هم په کې لاسوهنه کوي او د عملي کېدو په برخه کې خنډونه هم جوړوي. پرون سې شنبې ورځ په کابل کې د اساسي قانون د اوومې کليزې د لمانځلو لپاره يوه غونډه جوړه شوه. دې غونډې ته ولسمشر کرزي هم وينا وکړه او د خپلې وينا په ترڅ



۳مخ

پروژه های زیر بنایی ضرورت به بازنگری ومراقبت دارد

روزنامه واشنگتن پست چاپ امریکا طی گزارشی نوشته است، پروژه های زیر بنایی که تحت پروگرام خاص نظامی ایالات متحدهٔ امریکا در افغانستان ساخته می شود، بعد از تسلیم دهی به مقام های افغان، به علت نبود حفظ ومراقبت دوباره، ویران و به مخروبه تبدیل می شود. روزنامه می نویسد، به اساس راپور مفتشان امریکایی، نظامیان امریکایی در مدت شش سال گذشته از طریق پروگرام اضطراری، بیش از دوملیارد دالر بالای ۱۶هزار پروژه های بشری در افغانستان به مصرف رسانده اند، اما بعد از تسلیم دهی پروژه ها، مقام های افغان در نگهداری و حفظ و مراقبت آنها با مشکلات رو به رو بوده اند. چنانچه از جملهٔ ۶۹ پروژهٔ که در ولایت لغمان از طرف مفتشان خاص امریکایی برای امور باز سازی افغانستان مورد ارزیابی قرار گرفته، نصف این پروژه ها به علت نبود حفظ و مراقبت دوباره خراب شده و یا به مشکلات مواجه می باشند.این پروژه های زیر بنایی از پول پنج ملیارد دالری که از سال ۲۰۰۴ میلادی به این طرف به قوماندانان نظامی در عراق و افغانستان تخصیص داده شده، تمویل گردیده است. یک مقام ملکی امریکایی که از گفتن نامش خود داری نمود می گوید، حکومت افغانستان برای حفظ و مراقبت پروژه ها نه پول دارد و نه هم ظرفیت. عکس هایی که از ص۳

انفجار در قلب کابل یک کشته و چندین مجروح بر جا گذاشت

قوماندان یک پوستهٔ امنیتی پولیس شهرکابل، در اثر انفجار دیروز کشته و سه تن دیگر جراحت برداشتند. این انفجار، دیروز در ساحهٔ مراد خانی مربوط حوزهٔ اول پولیس، در نزدیکی وزارت دفاع ملی رخ داد. یک افسر پولیس حوزهٔ اول که از گرفتن نامش خودداری می کرد، در محل انفجار به آژانس خبری پژواک گفت که در این انفجار، امین جان قوماندان پوستهٔ پولیس، نخست زخمی و بعداً در شفاخانه، درگذشت. وی افزود که در این انفجار، زلمی خان وکیل گذر نیز، مجروح گردیده و وضعیت صحی اش وخیم است. این منبع امنیتی علاوه کرد که مردم، با دیدن مواد انفجاری در نزدیک پوستهٔ پولیس، به وکیل گذر و پولیس اطلاع دادند. وی افزود که حین رسیدن پولیس و وکیل گذر، انفجار به وقوع ص۳



ځانګړې محکمه:

محکمې ته ټولې رسېدلې دوسيې ځېرل کېږي

که د دې محکمې پرېکړې ناوړه حالت رامنځ ته کړ، پره به يې پر درغلي کورنکو وي

په داسې حال کې چې تاکل شوې شاوخوا دوې اونۍ وروسته ولسمشر نوې ولسي جرګه پرانېزي، د ولسي جرګې د انتخاباتو د شکايتونو ځېرنې لپاره جوړه شوې ځانګړې محکمه دا دوه ورځې چې د شويو درغلیو په اړه دوی ته رسېدلې ټولې دوسيې به وځېړي. د دې ځانګړې محکمې غړو د سې شنبې په ورځ د کابل د استيناف محکمې په تالار کې له معترضو کاندیدانو سره د پېژندګلوی غونډه نيولې وه، تر څو هغوی ته د محکمې د بهير په اړه معلومات ورکړي. د دې محکمې رييس صديق الله حقيق وويل، چې دوی ته رسيدلې ټولې دوسيې به ځېرل کېږي او خبرداری يې ورکړ چې که د دوی د پرېکړو له امله خطرناک شرايط رامنځ ته شول، پره به يې د هغو کسانو ۳مخ



بېځایه پسېمانې ۲

دلوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

کاربرد صحیح سرمایه و حمایت از ســـرمایـــه داران مـلی

تقویه اقتصاد ملی، تحکیم زیربناهای اقتصادی و رشد سرمایه داری از جمله عوامل عمده و اساسی پیشرفت و اعتلای یک کشور بشمار میرود.

رشد و انکشاف اقتصاد ملی مربوط ومنوط به تقویه زیر بناهای اقتصادی یک کشور می باشد و زیر بناهای اقتصدی یک کشو زمانی استحکام می یابد که افراد آن جامعه درایجاد سکتور های اقتصادی سهم بارز گرفته و در ساختار و ایجاد فابریکه ها و نهاد های اقتصادی ساعی و کوشا بوده واز فرار سرمایه از آنکشور جلو گیری نمایند.

برای رشد و انکشاف اقتصاد یک کشور بر علاوه سایر موارد دو موضوع حایز اهمیت می باشد؛ یکی موجودیت احساس ملی در میان سرمایه داران که تاجران مفاد مردم و اجتماع خویش را نسبت به منفعت شخصی خویش ترجیح بدهند و سرمایه خود را در بخش هایی سرمایه گذاری و بکار اندازند که مفاد اکثریت افراد جامعه در ان متصور باشد و نکته دیگر تشویق و حمایت دولت از تشبثات و سکتور های خصوصی و سرمایه داران ملی است.

دکتور ماردن یک عالم اقتصاد می گوید:" فوق العاده گی تاجران در جمع اوری و تحصیل مال نیست، بلکه فوق العاده گی انان در طرز استفاده انست زیرا حجم و ظرفیت جوی در ان نیست که دریاچه بزرگی را پر آب کند بلکه نیرو مندی، متانت واستحکام سد هااست که نمی گذارد اب ضایع شود".

ولی با تاسف در کشور ما در هر دو بخش کمی ها و کاستی های بمشاهد میرسد که باعث عدم رشد اقتصاد ملی گردیده است.

سرمایه داران ما به عوض انکه پول خویش را در بخش های بنیادی و ضروری جامعه که همانا تاسیس فابریکه ها، کارگاه ها و دستگاه های تولیدی است، سرمایه گذاری نمایند در بخش های تجملی مانند هوتلها، سینماها و... که تنها مفاد خود شان از ان متصور است سرمایه گذاری می نمایند و یا در صورت عدم دسترسی به تاسیس اینگونه مکانها، سرمایه خویش را از کشور خارج و به کشور دیگری انتقال می دهند.

چنانچه روزنامه نیویارک تایمز در یکی از شماره های اخیر خود راپوری را در مورد قاچاق اسعار خارجی به نشر رسانده که: " روزانه در حدود ۱۰ میلیون دالرنقد از افغانستان قاچاق و به دوبی انتقال داده می شود".

عامل دیگری که باعث عدم دلچسپی سرمایه گذاران و تاجران به کشور می شود، همانا عدم تشویق و حمایت دولت از سکتور های خصوصی و سرمایه داران است که بنابر نبود امنیت و متشنج بودن اوضاع امنیتی در کشور سرمایه داران جان و مال خود را در خطر می بینند، بنابران ترجیح می دهند که سرمایه خود را به کشور دیگری انتقال داده و در کشور بیگانه امرار معیشت نمایند.

با در نظر داشت این عوامل در قدم نخست ایجاب می نماید تا شرایط امنیتی توسط دولت قسمی عیار گردد که سرمایه داران احساس امنیت نموده با دل گرم وخاطر ارام به فعالیت های تجاری خویش مصروف گردند و در قدم دوم بر سرمایه داران کشور است که بخاطر رشد اقتصادی و فراهم سازی زمینه اشتغال برای هموطنان شان سرمایه خود را در بخش هایی سرمایه گذاری کنند که هم به نفع خود شان باشد و هم منافع هموطنان خود را در نظر بگیرند.

و نکته سوم اینکه تاجران در قسمت توريد اجناس باید دقت لازم بخرچ داده و اموالی را به کشور وارد کنند که نیاز مندی های ضروری و اساسی هموطنان شانرا مرفوع سازد.

عملکرد دقیق سرمایه داران ملی، طرز کاربرد صحیح سرمایه، توريد اشیا و اجناس مورد ضرورت اولیه، جلوگیری از فرار سرمایه، عدم احتکار، تشویق و حمایت دولت از سرمایه داران و تاجران ملی دست به دست هم داده باعث رشد و انکشاف زیر بناهای اقتصادی وایجاد نظم در سیستم اقتصادی یک کشور می گردد.

بیـــځایـــه پښـــیمانـــي

ح: هاندي



پوهان پر دې باور دي چې هېڅ علت بې معلوله نه وي او هر عمل عکس العمل لري. زمور افغاني ټولنه له ډېرو زمانو راهيسې د دې عملونو او عکس العملونو د ناپايه پېښو هسته او مرکز ګرځېدلې وه او هره ورځ تکرار ېږي. داچې د دې علتونو د له منځه ورلو لپاره ولې کار نه کېږي، اصلاً خو به دهغو پر درست درک باندې ځوک نه پوهېږي او که ځينې کسان پرې پوه هم دي، د مخنيوي لپاره يې هڅه او هاند نه کوي، دا ځکه چې په خړو اوبو کې د کبانو نيول خو د ځينو بهرنيو هېوادونو او داخلي ټولنو او اشخاصو لپاره د ګټې ډېره ښه منبع او مرکز دی. کله د دې هېوادوروستيو دېرشو کالو ته د عقل په سترګو وګورو، دلته د بهرنيو هېوادونو د عظمت طلبي توري منګولې د شومو هدفونو لپاره راغځېدلي او د خپل شوم خصلت له مخې غواړي د ملت مادي او معنوي هستي لوټ او تالان کړي. هغوی ددې کړنې نو عملونو د ښه سرته رسولو په خاطر په دې هواد کې پر معينو اشخاصو باندې سياسي سرمايه ګذاري کړې. هغوی يې رانيولي او د هغوی ټولو سياسي معاملو کې زمور مظلوم ملت برباد او له منځه لاړ. دا چې د ژوند چارې ښه سياسي شعوره او د زمانې له کړنو څخه د زده کړې او يا عبرت نه غيږ ډېر کړاوونه راز پروي چې زمور په ټولنه کې دا کار ډېر نيمګړی او ناقص دی. هغه څېرې چې د سياسي له لارې يې په تدوير سره تر تور نقاب لاندې د ډېرو عقيده، اراده او شعور تسخير کړي دي. که په ځير سره و ګورو نن ورځ زمور په هېواد کې هېڅ داسې ګوند، پارټی، ډله او سياسي څېره نه تر ستر ګو کېږي چې هغه د پردې و هېوادونو او اشخاصو دارادو ممثلين نه وي. او د ناڅېزې ګټې په خاطر يې د دې ملت او هېواد پر مادي او معنوي ارزښتونو معامله ګري پيل کړې نه وي. زمور د هېواد په دې راوروسته تاريخ کې ګورو چې بهرنيانو د ډېرې سياسي څېرې د لېډرانو، رهبرانو دولتي مشرانو په نامه زمور د ژوند د شطرنج پر تخته باندې پورته او کښته کړې. يو په بل پسې و خورړ او ځوک يې راوستل او ځينې يې وشړل. تر هغه وخته يې له دې اشخاصو څخه کار واخيست چې د دوی اراده يې تمثيلوله او د ماړاء لپاره يې هغوی ته په راتلونکي وخت کې د استفادې لپاره په بهر کې د ژوند ښه شرايط مجهز کړي وو. د افسوس خبره داده چې په دې رجالو په ښه د سياست په ډګر کې پر کار لګيا دي، د زمانې د تذويرونو او د تاريخ له کړنو څخه يې هېڅ نه دي زده کړي. که څه هم د ډېر روښانه تاريخ او تجربې يې مخ ته پرتې دي، خو هغوی بيا هم يا په خپله اراده او يا هم د نورو په دستور پردې اغزنه لار روان دي، دلته يې د محبت پرځای نفرت او د دوستۍ پرځای دښمني ډېره کړه. وينه يې پر وينو پر بمنځله او د غج اخيستلو او نفرت لمبې يې لا تازه کړي دي او ملت په د لمبو کې د وچو خسو غوندې سوځي. د وروستيو نهو کالو په بهير کې د ډيموکراسۍ په نامه دلته دارستوکراسۍ نيالګي پر ونو او حتا وحشي ځنګلونو بدل شول. دلته د سياسي ډرامو بازار ډېر ګرم دی. کله دلوبې جرګې په نامه د هېواد ټوپکوال او هغه ظالمان چې ملت تر پوزې ته راغلی راټول شول. ډېرې پيسې مصرف شوې. تحفې ووېشل شوې او د خپلو بهرنيو بادارانو ځخه د نوي کرغېړن دستور تر اخيستلو وروسته يې په نوې ښه خپل نارواکارونه پيل کړل، چې د هرې ورځې په تېرېدو سره ملت د بربادی کندې ته ولوېده. د لر او بر قومونو په نامه جرګه جوړه شوه بيا هم هغه زړه ډرامه خو تنها يې د هيروګانو جامې بدلې او نتيجه د کار هېڅ شوه. په بهر کې غونډې جوړې شوې د کاغذ پرمخ د مرستو وعدې وشوې، که ځينو هېوادونو مرستې راولېږلې، خو هغه هم دلته د بهرنيو او کورنيو غلو په منځ کې حيف و ميل شوې، ملت وچې شونډې پاتې شو، په کابل کې نړيوال کنفرانس په ډېر کش وپش جوړ شو. ملت پرې خبر نه شو، ځکه بې نتيجې و. په دې ورځو کې د سولې په نامه يوه بله سياسي ډرامه را پيل شوې ده، چې رهبري يې د داسې کس په لاس کې ده چې د دې ټولو بدبختيو او دېرش کلنې جګړې داخلي ممثل دی. هغه متل رايادشو چې وايي: (کفر که از کعبه خيزد کجاماند مسلمانی) اور په اور مړ کېږي او وينه په وينه نه پاکېږي، خو مور په اصطلاح (!) مبتکر مشران غواړي دا شرمېدلې تجربه بيا تکرار کړي، چې ښه مثال يې د سولې د مشر په نامه داستاد برهان الدين ربباني او ملامحمدعمر اخند ترمنځ سوله او هغوی د سولې د مذاکرې پر مهز کښېنول دي. دلته دواړه خواوې د بهرنيو په نفعو او اراده عمل کوي. د هغوی بادارانو خپلې ګټې نه سکروټې کوي. دلته د هغوی بادارانو سياسي سرمايه ۳مخ

آیا پاکستان در حال شکست در جنگ با طالبان است؟

منبع: تایم آنلاین

برای قوماندانان نظامی اردوی پاکستان این یک هشدار مرگبار است که دستاوردهای آنها طی دو سال گذشته علیه طالبان، در خطر از بین رفتن قرار گرفته است. اخیرا و در آستانهٔ سال نو میلادی اولین عامل انتحاری زن در منطقهٔ باجور با منفجر کردن خود، باعث کشته شدن ۴۷ پناهنده در نزدیکی یک مکان توزیع غذا تحت "برنامهٔ جهانی غذای سازمان ملل" شد.

محل این ماموریت سازمان ملل نیز، به دلیل نامساعد بودن شرایط امنیتی تعطیل شده است. در منطقهٔ باجور دور روز پیش شبه نظامیان صدمین بمگذاری خود را در یک مدرسه انجام دادند. همچنین در ماه گذشته، طالبان در منطقهٔ مهمند حملات خود را افزایش دادند. در بحبوحهٔ سال نو میلادی، ۱۵۰ شبه نظامی حملات هماهنگی را بر پنج پوستهٔ تلاشی در منطقهٔ باجور انجام دادند که باعث کشته شدن ۱۱ تن شد.

شب قبل از این حادثه نیز، دو عامل انتحاری به یک دفتر دولتی حمله کردند که بر اثر آن، ۴۴ تن از افراد قبایل که علیه طالبان گروه تشکیل داده بودند، کشته شدند. افزایش خشونت‌ها و حملات طالبان نگرانی‌های جدی را در مورد ثبات مناطق قبایلی پاکستان که مدت‌هاست اعلام شده امن هستند، ایجاد کرده است. دولت پاکستان نیز، به دنبال تثبیت حملات خود علیه طالبان پاکستان در مقرهای سابق آنها در درهٔ سوات و وزیرستان جنوبی است. فعالیت اردوی پاکستان و نیروهای امریکایی نیز، به نظر می‌رسد که متفاوت بوده و آنها اولویت‌های متفاوتی از یکدیگر را دنبال می‌کنند.

از زمان انجام حملات در دو سال پیش، پاکستان به طور عجولانه یکسری بیانیه‌های پیروزمندانه منتشر کرد. در فبروری ۲۰۰۹، جنرال طارق خان که در آن زمان رییس یکی از شاخه‌های شبه نظامیان دولتی بود، گفت: در اواسط ماه آینده ما باید منطقهٔ باجور را امن کنیم. اما اکثر پناهنده گانی که از این منطقه گریخته‌اند، هنوز در خارج از پیشاور زنده گی می‌کنند و موج افزایش خشونت‌ها در این منطقه بعید است، باعث بازگشت زودهنگام این پناهنده گان به منطقهٔ باجور شود. مقام های نظامی پاکستان تاکید دارند که آنها به جز بخش‌های غیرقابل دسترس منطقهٔ باجور تمامی مناطق دیگر این منطقه را امن کرده‌اند، اما خشونت‌ها در منطقهٔ باجور، چیز دیگری می‌گوید. شبه نظامیان و عاملان انتحاری در هر منطقه‌یی که بخواهند و انتخاب کنند، حملات خود را انجام می‌دهند. منطقهٔ مهمند نیز، هرگز باثبات نشده است. یک تحلیلگر امور نظامی می‌گوید: هرگز در این منطقه حملات موثر و هماهنگ علیه طالبان انجام نشده و فقط اقدامات مقطعی در این منطقه، انجام شده است.

به گفتهٔ کارشناسان، به نظر می‌رسد که بخشی از این مشکل به دلیل نگرش اردوی پاکستان در منطقهٔ باجور بوده است. با این حال، یک مقام رسمی نظامی ارتش گفت: شمار نیروهایی که ما در درهٔ سوات به کار گرفتیم (جایی که در آنجا موفق شدیم)، بسیار زیاد بود. مشکل دیگر در این راستا، موضوع شرایط مرزهاست. یک مقام نظامی پاکستان گفت: ما نمی‌توانیم از مرز دو کشور عبور ص۳

بېځایه ...

ګذاري کړې، ډېرې پېسې يې لګولې، داد شروزرو پيشوګانې له لاسه نه ورکوي. که چېرې د هېواد دولتي چارواکي او بهرنۍ نړۍ واقعاً بيا هم دې اور ته لمن وهي، هم به ځان په کې وسوځي او هم به مختوري شي. داملت خو بېله هغې هم داور په لمبو کې د سمندر په شان عادت دی، اوس له سوځېدو کې خوند اخلي، خو دولتي مقامات او مشران دې توري چشمې له ستر ګولرې کړي، د تنظيمي اړيکو پرځای دې ملي او ولسي اړيکي خپل کړي، که نه بيا دا ارام ملت که يو ځل پاڅېد، نه به يې هوايي ځواک او نه هم توپونه ارام کړي او بيا د حسرت د لاسو مښل ګټه ونه کړي.

آیا پاکستان در حال شکست در ...

کنیم و پناهگاه های طالبان را در ولایت کنر افغانستان هدف قرار دهیم. در بازبینی استراتیژی دولت اوباما، واشنگتن به این نتیجه رسید که اقدامات در جنگ افغانستان به دلیل ناکامی پاکستان در جلوگیری از نفوذ طالبان در مرز افغانستان پاکستان و همچنین عدم نابود کردن پناهگاه‌های امن طالبان درون خاک این کشور با اختلالاتی روبرو بوده است. یک مقام نظامی پاکستان نیز، خاطر نشان کرد: زمانی که منبع مشکل در سرحد دو کشور قرار دارد، از ما انتظار دارید، چه کاری در مناطق باجور و مهمند انجام دهیم؟ این مقام نظامی پاکستان معتقد است، در نزدیکی مرز شرقی دریای کنر و سرحد دو کشور برخی از طالبان پاکستان که مدتهاست تحت تعقیب هستند، پناهگاهی برای خود یافته اند. این مقام نظامی پاکستان گفت که حضور امریکا در سراسر سرحدات کاهش یافته است. این مقام فراتر از این اظهارنظر کرد و افغانستان را به پناه دادن به شبه نظامیان متهم کرد. به گفتهٔ این مقام نظامی پاکستان، این اقدامات افغانستان اعتماد میان کابل و اسلام آباد را تضعیف می‌کند. موضوع ترافیک تردد مرزی تندروان و ادامهٔ خشونت‌ها در مناطق قبایلی پاکستان در اقدامات امریکا در افغانستان تاثیر گذاشته است. پاکستان تا زمانی که مطمین نشود، امنیت مناطقی که بزرگترین تهدید برای دو طرف مرز است، تامین نشده، وارد این مناطق نخواهد شد. یکی از این مناطق منطقهٔ وزیرستان شمالی است؛ جایی که واشنگتن مدت هاست از پاکستان می‌خواهد، در آنجا اقدامات جدی علیه طالبان انجام دهد.

این مقام نظامی پاکستانی گفت: به جز مناطق باجور و مهمند، پاکستان همچنین در بخش‌هایی از منطقهٔ خیبر و اورکزی و مسیرهایی در اطراف منطقهٔ خرم با چالش‌هایی مواجه است. وی افزود: شرایط در منطقهٔ وزیرستان جنوبی بی‌ثبات و تغییرپذیر است. هیچ کس نمی‌خواهد، به خاطر وزیرستان شمالی منطقهٔ وزیرستان جنوبی از دست برود. در عین حال واشنگتن نیز، هیچ راهی جز تشدید حملات هواپیماهای بدون سرنشین در خاک پاکستان ندارد. در سال جاری به تنهایی بیش از ۱۰۰ حمله در منطقهٔ وزیرستان شمالی روی داد و پاکستان نیز، نسبت به نارضایتی‌های عمومی از کشته شدن غیرنظامیان طی این حملات طیاره های بدون سرنشین نگران است، اما در محافل خصوصی این اعتقاد وجود دارد که این حملات طیاره های بدون سرنشین تاثیر دارد و حداقل می‌تواند، در فعالیت‌های شبه نظامیان محدودیت ایجاد کند.

محاصرهٔ اقتصادی افغانستان، ...

حکومت در کار جلوگیری افزایش بهای موادنفتی در بازارهای افغانستان، متوقف ساختن تانکرهای تیل از سوی ایران و نیز بلند بردن بهای تیل به گونهٔ دلخواه از سوی تاجران می دانند.

یکی از باشنده گان کابل در گفتگو با طلوع نیوز گفت: "امروز بهای نفت بسیار بلند شده است؛ هیچ گاه این طور یادم نمی آید که شده باشد."

بلند رفتن بهای مواد نفتی در زمستان که بیشتر مردم با مشکلات اقتصادی نیز رو به رو هستند، نگرانی های باشنده گان پایتخت را برانگیخته است. اما اینکه چرا همسایه گان دست به چنین اقدام ظالمانه می زنند، به باور اتاق تجارت، این کشورها گاه گاهی به علت سیاسی، تلاش کرده اند، تا افغانستان را در محاصرهٔ اقتصادی در آورند و از آن سود ببرند. چیزی که به باور این نهاد، حکومت افغانستان تاکنون در برابر آن ناتوان بوده است. خان جان الکوزی، معاون هیأت مدیرهٔ اتاق تجارت وصنایع می گوید: " دولت هم تدابیر جدی و تدابیر که در اختیار خود دارد نگرفته است که به وقت و زمان طبعاً این یک نقطهٔ ضعف ماست این یک بار نیست بار ها در طول همین ده سال ما زیرهمین فشار و محاصرهٔ اقتصادی آمده ایم."

در حالی که از یک ماه بدین سو بیشتر از ۱۵۰۰ تانکر نفت افغانستان از سوی ایران متوقف شده اند و نیز، از پنج ماه بدین سو نزدیک به چهار هزار کانتینر مواد وارداتی افغانستان در پاکستان متوقف شده است. این چندمین بار است که کشور های ایران و پاکستان با نقض توافقنامه های تجارتی از ورود اموال تجار افغان جلو گیری می کنند و تا به حال حکومت افغانستان واکنش جدی از خود نشان نداده است. طبق گزارش ها، حدود ۳۰ درصد سوخت مورد نیاز افغانستان از مرز ایران وارد می شود و بخش اعظم باقی آن از طریق جمهوری های آسیای میانه تأمین می گردد.

هرچند ایران همیشه از روابط نیک خود با دولت افغانستان سخن گفته است، اما هر از گاهی اعمالی از سوی این کشور سر می زند که مستقیما مردم افغانستان از آن آسیب می‌بینند. این درحالی ست که به باورآگاهان، سفر معاون اول رییس جمهور به ایران در این باره نیز به نتیجه یی نرسیده است. افغانستان یک کشور مصرفی است و مواد نفتی و غذایی اش را همواره از کشورهای جهان به ویژه ایران و پاکستان وارد می کند. بنابراین چنین به نظر می رسد که کشورهای همسایه، افغانستان را در محاصرهٔ اقتصادی درآورده اند، اگر حکومت در این باره اقدام جدی نکند، افغانستان با یک بحران اقتصادی رو به رو خواهد شد.

انفجار در قلب کابل یک کشته و ...

پیوست. این منبع امنیتی گفت که در این انفجار، یک فرد دیگر ملکی و یک پولیس نیز جراحت برداشته است.

این انفجار، در حدود ۲۰ متری پوستهٔ امنیتی رخ داده که شیشه های تعمیرات نزدیک را شکستانده و همچنان در محل، خون نیز، به مشاهده می رسد.

سمونوال محمدظاهر رییس تحقیقات جنایی قوماندانی امنیهٔ کابل، گفت که در مورد این انفجار، تحقیقات آغاز شده و جزییات بیشتر، بعداً روشن خواهد شد. تا هنوز مسوولیت این انفجار را کسی به عهده نگرفته است. باید گفت، این اولین واقعهٔ ناامنی در ماه جدی است که در شهر کابل به وقوع می پیوندد. به تاریخ ۲۸ ماه گذشته، یک حملهٔ انتحاری در مربوطات حوزهٔ نهم شهر کابل، در مسیر شاهراه کابل- جلال آباد انجام شده بود که منجر به کشته شدن پنج سرباز اردوی ملی، جراحت ۹ سرباز دیگر اردو و یک فرد ملکی گردیده بود.

ژوند د فرهنګ لپاره که فرهنګ ...

باندې داشخاصو واکمني ځای نه لري، بلکې دغه ځای معیارونه نه ليسي، خو هغه معیارونه نه چې د هغو متفکرانو د مغزو زېرنده وي، چې د دې مدعیان دي، چې د انسان او د هغه د فرهنګ د تاریخ د همیشنۍ حرکت لپاره يې د خپل سنجش په قدرت کیلی (لیکی) کښلی دی. له وحې معیارونه هم اسلامي فرهنګ ته ځواک ورکوي او هم استقامت، په دغو معیارونو کې د منطق او محتوا له مخې د اسلامي ټولنې ټول فرهنګي تګلوري شامل دي او ټولو اثارو ته په یوه بڼه نه یوه بڼه رنګ ورکوي، کله چې معیارونه موجودوي، د ټولنې د ټولو فرهنګي حرکتونو کنټرول او ځارنې ته اړتیا نه لیدل کېږي، ځکه چې د معیارونو او ارزښتونو په درلودلو سره له ضد فرهنګ څخه د فرهنګ او له ضد اشخاصو د اخلاقو تشخیص کوم مشکل او ستونزمن کار نه دی.

زمور په هېواد کې د ځولسیزې جګړې دوام داوښکو، سوو ساندو، وینو او د هېواد د خرابۍ او رنګونې سبب شوا و له دې حالت څخه استعمار په خپله ګټه د هره بڼه او غوره استفاده وکړه او زمور ملي فرهنګ ته يې زيات تاوان ورساوه. په دې خبره به يو څه مکث وکړو، په بهلابهلو هېوادونو کې بهلابهل استوګنې قومونه او ولسونه ځان ته فرهنګ او کولتور، دود او عنعنات لري، چې هر قوم او قبیله په خپلو دغو ځانګړو ارزښتونو ویاړ کوي، خو داسې ډېر شوي دي، چې د مهاجرتونو او مسافرتونو په وسیله د یوه هېواد په تېره ګاونديو هېوادونو څخه بل هېواد ته لېږد بدلی او د فرهنګي یرغل په وسیله يې خپل هویت او ماهیت بدل کړی، یا دا چې په کې حل شوی او یا يې په دغه وسیله فرهنګي ګډوډي رامنځ ته کړې ده، تر دې چې سړی له ځان څخه د پردیتوب په حال کې ښکیل شوی دی او خپل ټول ملي، کولتوري او فرهنګي ویاړونه يې له لاسه ورکړي دي. افغانستان د خپل جغرافیايي موقعیت له نظره د دغه راز یرغلونو په ځلور لارې کې پروت دی. د ورښمو د سوداګرۍ کاروانونه له همدغه هېواد څخه تېر شوي، د یونان او چنګیزي لښکرو له یرغل او تیري سره همدغه هېواد مخ شوی چې دغه دواړو زمور ملي فرهنګ او کلچر او حتا ژبه او ادبیات يې بې اغېزې نه دي پرېښي او دلته يې په تېره د ځوان نسل له خوا په خلاصه غېره تود هرکلی شوی دی. زمور په یو شمېر ځوانانو کې د تقلید روحیه دومره پیاوړې ده، چې ښځي افراطي حد ته رسېدلې. په دې معنا چې که کوم بهرنی د خپل پتلانه یوه پایځه سره او بله توره کړي، یا دا چې په یوه پښه يې بوټ او په بله يې کلوشه په پښو کړي، په سبا به يې وګورئ چې نیمايي ښارد نوي تمدن او تجدد په نامه ورته غېره خلاصه کړي او په پراخه ټنډه يې د دغه کار هرکلی وکړي، چې مورد هیپیانو د هیپسي یرغل اغېزې په خپلو یو شمېر ځوانانو کې د سر په ستر ګو ولیدې چې کله کله سړی پرې خطا کېده چې نر يې و بولي او که پیغله. په هر حال فرهنګ د ژوند لپاره دی نه دا چې ژوند د فرهنګ غلام وي، ځوک چې دا خیال کوي، چې ژوند د فرهنګ لپاره دی، اصلا پر خپل ملي فرهنګ لوبې کوي، چې د غندلو ور دی.

اساسي قانون اووه کلن شو، ...

کې يې یوه مهم ټکي ته هم اشاره وکړه، هغه دا چې ده وویل، که څه هم په تېرو اوو کلونو کې د اساسي قانون د عملي کولو لپاره لازمي هڅې شوي دي، خو د دغه قانون په پوره نه عملي کېدو کې د بهرنیانو لاس دی او اوس هم هغوی نه غواړي، چې عملي بڼه غوره کړي. نوموړي دا ومنله چې په تېرو کلونو کې د اساسي قانون د عملي کېدو پر وړاندې ځینې کورنۍ او بهرني خنډونه موجود وو، خو څرګنده يې کړه چې د اساسي قانون د پوره عملي کېدو لپاره د دولتي لوړ رتبه چارواکو ژمنه او د بهرنیانو د لاسوهنو بندېدل اړین کار دی، کرزي وویل: "د اساسي قانون سم عملي کېدل له مور نه پوره خپلواکي او زمور له بهرنیو دوستانو څخه داغواړي چې زمور په دې کورنۍ معاملې کې چې هغه د اساسي قانون یادونې لرې، چې هر قوم او قبیله په خپلو دغو ځانګړو وساتي او خپلې لاسوهنې بندې کړي. هو په دې برخه کې د هغوی د مداخلې لاسونه شته او که چېرې د امداخلې بندې شي، زمور هېواد به پرمختګ وکړي او د تکامل پراوو ته به ورسېږي." د دې قانون د نافذېدو له وخته تر اوسه داسې نیوکې کېږي چې خلکو او دولتي چارواکو د اساسي قانون د عملي کېدو په برخه کې لکه څنګه چې لازمه ده هڅې نه دي کړي. که څه هم د دې کار لپاره ولسمشر کرزي د اساسي قانون پر پلي کېدو د ځار کمېسیون جوړ کړ، خو د کمېسیون له هڅو سره سره بیا هم دا قانون پوره عملي نه شو. په هر حال اوس چې له د دغه قانون له تصویب څخه اووه کاله تېرېږي او تر اوسه لا پوره عملي شوی نه دی، دا ډېره د شرم خبره ده، ځکه په اوو کلونو کې چې د یوه هېواد اساسي قانون عملي نه شي، نو به دا هېواد تر ټولو کمزوری او ضعیف هېواد وي. دا چې ولسمشر ډېره پر بهرنیانو راچوي او وایي، چې د هغوی د لاسوهنې پر بنسټ دا قانون په پوره توګه نه عملي کېږي، د ولسمشر دا خبره هم د نیوکې او نقد وړ ده، ځکه دا پخپله د ولسمشر ضعف ښیي، چې د هېواد اساسي قانون يې د بهرنیانو په خوښه او د هغوی د فرمایشونو مطابق وي او هره پرېکړه د قانون خلاف د هغوی د غوښتنو له مخې ترسره شي. باید وویل شي، اساسي قانون د یوه هېواد بنسټ او کرنلاره ده او د هر هغه هېواد کرنلاره چې د بهرنیانو او پردیو له خوا وتاکل شي، د هېواد په زیان تمامېږي، نو همدې امله ولسمشر باید دې ټکي ته ډېر پام وکړي، چې خپل اساسي قانون د بهرنیانو له ولکې راخلاص کړي او په دغه قانون کې هغه نواقص او نیمګړتیاوې چې ګوته ورته نیول کېږي، د یوه واکمن کمېسیون او یا هم د لویې جرګې له لارې پوره او حل کړي او له دې ټولو سره سره د دغه قانون په پوره عملي کېدو کې پر ځای او اړین ګامونه پورته کړي.

محکمې ته ټولې رسېدلې دوسیې ...

په غاړه وي چې په انتخاباتو کې يې د درغلیو جرم کړی: (د ټاکنو کمېسیون ته احترام لرم، که د محکمې د پرېکړې په رنا کې فیصله وشوه او د دې فیصلې په رنا کې ناګواره حالت رامنځ ته شو، د دې مسوولیت به د هغه چا پر غاړه وي څوک چې د دې جرم مرتکب شوی وي.)

د ولسي جرګې د انتخاباتو د کاندیدانو د شکایتونو د څېړنې لپاره ځانګړې محکمه د ستړې محکمې په وړاندیز او د ولسمشر په منظوري په دې وروستیو کې جوړه شوه. د دې محکمې رییس وویل، چې د لویې ځارنوالۍ له خوا ورته په انتخاباتو کې د درغلیو او سرغړونو شاوخوا څلور سوه دوسیې سپارل شوي چې نږدې اوه زره مخه کېږي. خو د سلواغې د میاشتې تر لومړۍ نېټې پورې په شاوخوا دوو اونیو کې د دغو ټولو دوسیو څېړنه او پرېکړه یې پرېکړه کول، د محکمې چارواکو او معترضو کاندیدانو ته ستونزمنه برېښي. له همدې امله ځینو کاندیدانو له ولسمشر نه وغوښتل چې د ځانګړې محکمې له پرېکړې مخکې دې نوې ولسي جرګه په یاده شوې نېټې نه پرانیزي.

له میدان ورد ګو ولایت څخه یوه کاندید وحیدالله کلمیزي، چې د محکمې په غونډه کې موجود و، په دې اړه وویل:

(زمور غوښتنه داده چې باید پارلمان افتتاح نه شي او ولسمشر باید د دې محکمې پرېکړې ته غوږ ونیسي.)

دازادي راډیو د راپور له مخې، د جمهوري ریاست چارواکو ویلې، چې ولسمشر به له اساسي قانون سره سم په تاکلې نېټې نوې ملي شورا پرانیزي، خو که چېرې د ځنډېدو په اړه د ځانګړې محکمې له خوا رسمي غوښتنه وشي، نو بیا به پرې غور کېږي. د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمېسیون او د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون له مخکې نه د ځانګړې محکمې له جوړېدو سره مخالفت ښودلی او ویلي يې دي، چې د انتخاباتو په اعلان شویو پایلو کې بدلون نه شي راوستلای، خو د ځانګړې محکمې چارواکي بیا دا خبره ردوي.

پروژه های زیر بنایی ضرورت ...

پروژه های بازسازی مانند، مکاتب، سرک ها و کانال های آبیاری گرفته شده و درج راپور مفتشان امریکایی می باشند، نشان می دهد که اکثر پروژه ها بعد از تسلیم دهی به مقامهای افغان به علت عدم نظارت و حفظ و مراقبت خراب و به گفته روزنامه حتا به مخروبه تبدیل شده است.

جنرال دیوید پیترویس قوماندان نیروهای ناتو در افغانستان در سال گذشته به مجلس سنای امریکا گفته بود، پول های اختصاص یافته پروگرام خاص به قوماندانان نظامی، موثر ترین وسیله برای رفع نیازمندی های مردم محل می باشد.

به نوشته روزنامه، از مدت دو سال به این طرف تلاش صورت گرفته است تا این پول ها به شکل موثر و شفاف به مصرف برسد. روزنامه واشنگتن پست در اخیر مقاله می نویسد: به اساس دستور العمل تهیه شده، زمانیکه والی، شاروال و یا سایر مقام های افغان پروژه ها را تسلیم می شوند، باید یاد داشتی را امضا کنند که در آن تعهد شده که برای فعال نگهداشتن و حفظ ومراقبت پروژه های تسلیم داده شده، پول کافی در اختیار خواهند داشت. اما در ماه اکتوبرسال گذشته میلادی زمانیکه پانزده دوسیه پروژه ها در ولایت ننگرهار مورد بررسی و ارزیابی قرار گرفت، فقط در دو دوسیه چنین یاد داشت وجود داشت.

ژوند د فرهنګ لپاره که فرهنګ د ژوند لپاره

قتیل خوږیانی



مخکې له دې چې د موضوع په باره کې څه وليکم ضروري بولم، چې په خپله په دې باره کې چې ژوند د څه لپاره او دغه راز پر فرهنګ او فرهنګي ژوندانه په لنډه توګه يو څه ړنا واچوم.

د احسن الخالقين حضرت حق سبحانه و تعالی د سپېڅلي پيغمبر صلي الله عليه و سلم د دغې لارښوونې پر اساس چې ((ټول له ادم عليه السلام څخه پيدا شوی يئ او ادم عليه السلام له خاورې څخه و.)) د بشرۍ ژوندانه مبدا له ابوالبشر حضرت ادم عليه السلام څخه پيل شوې ده او د انسان خلقت او پيدايښت د دوو خاصيتونو په اساس رامنځ ته شوی دی.

لومړی دا چې د يوه داسې عيني ځواک او قوت احساس وکړي، چې په ده او نورو کايناتو حاکم او مسلط او د علم، حکمت د تدبر او قدرت څښتن وي. دغه غيبي قوت د تخليق مبدا او د توفيق او هدايت ايجادوونکي دی او دغه راز احساس چې له فطرت څخه سرچينه اخلي، په نفس کې تل موجود او له خپلو اثارو او لوازمو سره لکه درب العزت پر وحدانيت اعتقاد منځ ته راځي.

د انسان دويم خاصيت دا دی، چې د ځمکنيو او د اسماني موجوداتو او کايناتو او دغه راز د خپل ځان په باره کې د نظر او د تدبير له املې د عقل او ادراک په قوت سمبال شوي دی او په دغه اساس د ده فطري شعور پراختيا او زړه يې دايمان په نور ډک او روښانه کېږي او په مستقيمه او روښانه لاره ګام پورته کوي، چې دغه لاره د هوسا او نېکمرغه ژوندانه لاره ده، انسان د تفکر او تدبر له لارې د نړۍ او په هغې کې د موجوداتو د اسرارو او ښېګڼو لکه دارتقا او پرمختګ او ځمکې د ابادۍ له وسايلو سره چې له همدې املې د ځمکې پر مخ خليفه ګرځېدلی، پوهه او معرفت پيدا کوي، خو هغه اوهام چې د غفلت په وخت کې يې انسان تر خپلې اغېزې لاندې راووست او د ده پر عقل يې پنډه پرده واچوله او له دې ځخه يې چې دنيا ته متوجه او په اسرارو کې يې ور ننوځي او له ښېګڼو څخه يې کار واخلي، بلې خواته ښويا وه او د خرافاتو او هاتو په ړسۍ يې وتاړه، د عقل او ادراک فايده يې له لاسه ورکړه او په داسې شيانو يې زړه بايلود چې د اور بدلو او ليدلو توان يې نه درلود او د نفساني غوښتنو له چاپيريال څخه بهر نه شو او په ژوندانه کې يې له حيواني غرايزو او نفساني فاسدو او ناموزونو غوښتنو څخه پرته نور څه و نه پېژندل خو په دې بايد وپوهيږو چې د الهي حکمت غوښتنه دا نه وه، چې انسان په داسې حالت اخته شي، چې خپل خاصيت، په ټېره بيا هغه شعور، چې د هغه په واسطه د خپل خدای جل جلاله ادراک او د غه راز هغه تفکر او تدبر چې د هغې په وسيله په ژوندانه کې د دنيا اسرار پېژني او له ښېګڼو څخه يې استفاده کوي له لاسه ورکړي، په داسې حال کې چې خدای جل جلاله انسان مکرم کړی او د کرامت او فضيلت تاج يې د ده پر سر اېښې دی او د خپلو نورو مخلوقاتو په نسبت يې برتري او غوره توب د ده په برخه کړی دی.

په دې خبره يو څه غور په کار دی، چې د دنيا په پيدايښت او ورسره د اخرت په پيدا کولو کې څه فلسفه پرته ده؟ آدم عليه السلام د يوه کامل انسان او د بشپړ فرهنګ د څښتن انسان په توګه د خدای جل جلاله هغه بنده و، چې د عاموا و عادي انسانانو څخه او چت او په عمل او کردار د لوړې درجې څښتن و، څرنګه کېدای شي، چې دغه راز کامل انسان چې د ((داب البشر په لقب مزين شوی و، د حضرت حق سبحانه و تعالی د امر نافرماني وکړي او د شيطان په لمسون په داسې عمل لاس پورې کړي، چې له جنت څخه يې د وتلو او سرګردانۍ سبب شي. خو خبره دا ده، چې په دې کې هم الهي حکمت نغښتی و او د دنيا پر مخ يې د ژوند او د خير او شر جزا او مکافاتو، پوښتنې او ازموينې لپاره ډګر پراخه کړ. که انسان دنيا ته نه وای راغلی د دنيا او ځمکې پيدا ښت بې فايدې و، چې نه به په کې حاکم او محکوم موجود و نه ظالم او مظلوم. په کوم ځای کې چې هېڅ موجود نه وي هلته د هېڅ راز قوانينو موجوديت ته ضرورت نه ليدل کېږي، چې په دغه اساس به نه امام او نه پيغمبر ته اړتيا ليدل کېده او دا هم ضروري ده، چې په هغه صورت کې به د اخرت او قيامت ازموينه هم نه وي، جنت ته په پوره ډاډ او اطمينان تګ او دوزخ په سرو لمبو کې غورځېدل به هم نه وای، ځکه کله چې عمل نه وي يا به داسې وويو، کله چې د ځمکې او د دنيا پر مخ انسان نه وي، پيغمبر صلي الله عليه وسلم به د چا د لارښوونې لپاره راځي او په اخرت به له چا نه، د څه شي پوښتنه کېږي؟ نو که پر دې باور لرو، چې د دنيا پيدايښت برحقه د يوه عالي هدف لپاره دی دا به ضرور منو، چې د هغې پر مخ له الهي حکمت سره سم دانسان استوګنه ضرور ده او د دغه ضرورت ترڅنګ دانسان د لارښوونې او د الهي قانون سره سم د هغو د اخلاقي، ادبي، تهذيبي او معنوي ښېګڼې او روزنې لپاره د يوه کامل انساني موجوديت ضروري دی، چې موږ يې په ډېر ويار پيغمبر صلي الله عليه وسلم بولو او د لوی خدای جل جلاله له لوري د خپلو بندګانو د لارښوونې او د نېکو اخلاقي او اسلامي فرهنګ د بشپړولو لپاره ر ااستول کېږي.

د دغه اصل له مخې په هغه الهي نړۍ ليد او تفسير کې چې موږ يې د انسان او جهان په باره کې لرو، پيغمبرانو ته اړتيا د ترديد وړ نه ده، ځکه چې د شتون (موجوديت) دغه نړۍ هدف لري، په خپل تګلوري کې چې کومه لاره وهي، بايد انسان هم چې د موجوداتو يو جز دی، يوه داسې لاره ولري، چې له تباهۍ او برده باری نه يې خوندي وساتي چې هغه لارد نبيانو او پيغمبرانو لاره ده. بله دا چې دنيا داخرت کرونده ده که بنه دې وکړل، بنه به وينې او که بد دې وکړل، بد به وينې. په اسلام کې د علامه استاد سلجوقي له ويناسره سم، د انسان ادبي تکامل، چې زموږ په تعبير د ده هماغه فرهنګي تکامل دی، چې د ده ټول غير مادي اړخونه لکه ايمان، ليد، تفکر، عرفاني ادراکات او عاطفي احساس، ښکلا خوښونه او منطقي او علمي پلټنه احتوا کوي. د پوهانو په خبره په اصل کې ((انسان)) له فرهنګي انسان)) څخه عبارت دی. او که نه هسې وګړي خو ډېر دي. دا د خلکو حکمت دی، چې په خوړ کې خو کاڼي خو خبره ترمنه ده)) چې دغه اطلاق ور باندې نه شي کېدای او اسلام نه يوازې دغه مقوله مني، بلکې دا ور باندې اضافه کوي، چې اصلا اسلام د فرهنګي انسان دين دی دا سمه نه ده، چې ووايو، يوازې هماغه خلک فرهنګي انسانان دي، چې په قلم يا د تصوير په ژبه په ټولنه کې حاکم ادبي او مدني معيارونه او ارزښتونه په فرهنګي اثارو کې منځ ته راوړي او فرهنګي اشخاص هغه خلک دي، که عوام وي او که خواص چې په خپل ورځني شخصي او ټولنيز ژوندانه کې د دغو معيارونو او ارزښتونو په منډ روان وي.

د بشر فرهنګي حرکت او ادبي تکامل د يوه مانو څخه پرته د تاريخ له ځپانده سمندر څخه روغ رمټ نه شي راوتلی، هغه فرهنګي چې اصلي رسالت يې د حقيقت په کرښه ګام اېښودل او د هغه په لور د ټولنې سوقول دی، د الهي وحې شويو معيارونو له قطب نما څخه پرته مطلوبه لاره نه شي موندلی، په اسلامي ټولنه کې د غربي ټولنو په شان فرهنګي پلټنې د ارزښتونو له ګډوډۍ او خود رويو ارزښتو څخه عبارت نه دی، چې خلک په نيمايي لاره کې خپله اصلي لاره ورکه کړي، په دې ټولنه کې روانه دی، چې د حق او باطل لپاره يو شان تبليغ وشي. فرهنګي اثار حق نه لري، چې باطل د حق او حق د باطل پر کرسۍ کښېنوي او يا د دغو دواړو ترمنځ پولې دومره نرۍ کړي، چې له پېژندلو څخه يې وباسي.

په اسلام کې پر فرهنګ ۳مخ

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده دهم : هـ – امکانات مشابه جهت دست یابی به برنامه های مربوط به ادامه تحصیلات از جمله برنامه های عملی سواد آموزی بزرگسالان بخصوص برنامه هاییکه به هدف کاهش سریعترشکاف آموزشی موجود بین زنان و مردان میباشد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه يوازې د سر ليکنې ننګه کوي، نورې ليکنې د ليکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه يې مسوليت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قيمت يک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امريکايی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امريکايی

مرکز نشرات افغان
روزنامۀ ملی اراده
موسس و صاحب امتياز: حاجی سيد داؤد
مدير مسوول : خادم احمد
موبايل :– ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتيار
موبايل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com